# رغونه

اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

د ذوالحجة الحرام ۲۷، ۱٤٤٧ هـ.ق کال
وری/جوزا ۲۳مه، ۱۴۰۵ هـ.ش کال

دویم کال، پرله پسې نهمه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري عمومي ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


لغمان — مهترلام ښار کې ۲۸ پراختیایي پروژې پلې کېږي

زابل — قلات ښار کې د لوډسپیکرونو کارول منع شول

فاریاب — جلسه ربع اول سال مالی ۱۴۰۵ کمیته مبارزه با فساد اداری شاروالی میمنه دایر گردید

فاریاب — جلسه گزارش دهی فعالیت‌های ربع اول سال مالی ۱۴۰۵ شاروالی میمنه برگزار شد

ننګرهار — جلال اباد کې د ښاري نظم کمپاین ترسره شو

هرات — تقاضای شاروالی هرات از باشندگان این شهر!

فراه — فراه کې د ښاري پراختیا پر پلانونو غونډه وشوه

خوست — د خوست اداري کمپلېکس مخې ته د سړک ویرینګ پیل شو

هلمند — د ګرشک جکشن سړک د پراختیا چارې رواني دي

کندهار — کندهار کې د سړکونو ترمیم بشپړ شو

لوګر — د پل‌علم ښار د ماستر پلان د تطبیق لومړنی ناسته ترسره شوه

پکتیا — ګردېز ښاروال د ودانیزو چارو پر مهال د ګاوندیانو حقونو رعایت مهم وباله


## د فراه ښار د نوي ورودي دروازې د جوړېدو پروژه پیلېږي




## د لښکرګاه ورودي دروازې د سړکونو د لیول کارۍ چارې وځارل شوې




## از پروژه‌های تحت کار شاروالی چاریکار نظارت جدی صورت گرفت



## مهترلام ښار کې ۲۸ پراختیایي پروژې پلې کېږي




لغمان ۱

مهترلام ښاروالی د ۱۴۰۵ مالي کال په ترڅ کې د ښار د پراختیا او ښاريانو ته د لا زیاتو اسانتیاوو د برابرولو لپاره ۲۸ پراختیایي پروژې پلي کوي. د مسؤولینو په وینا، له دې ډلې ۱۲ پروژې د ښاروالی له داخلي بودجې او ۱۶ نورې د همکارو مؤسسو په مالي ملاتړ عملي کېږي. په دغو پروژو کې د سړکونو، ویالو، پلچکونو، پارکونو او ګلدانونو جوړول او رغول شامل دي، چې د ښار د ښکلا، هوساینې او اقتصادي ودې ترڅنګ به سلګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره کړي.

جلسه اداری شاروالی فیروزکوه ولایت غور به ریاست مولوی امین‌الله شریفی، شاروال فیروزکوه، و با حضور کارمندان این اداره برگزار شد. این نشستْ گزارش‌های کاری کارمندان بررسی و چالش‌های اداری آن‌ها شنیده شد. در ادامه بر جمع‌آوری دقیق عواید شاروالی، حفظ و مراقبت از وسایط موجود و همچنین خرید وسایط جدید برای بهبود خدمات‌رسانی به شهروندان تاکید صورت گرفت. بخش دیگری از گفتگوها بـه اهمیت انتقال به موقع زباله‌ها برای پاکیزگی شهر و بررسی شرایط کرایه دادن هوتل سه طبقه متعلق به شاروالی اختصاص یافت.




غور ۲

کارکنان شاروالی شهر شبرغان به منظور تأمین محیط پاک برای شهروندان و کسبه کاران، زباله ها و مواد اضافی را از جاده ها، پیاده روها، جویچه ها و اطراف مارکیت ها جمع آوری و انتقال دادند و همچنان ساحات تجارتی را از وجود کثافات پاک سازی کردند.

جوزجان ۳

## موقعیت های جدید بازار مواشی (نخاس) شهر میمنه تعیین گردید

داملا محمد امین فرقانی، شاروال شهر میمنه با جمعی کثیری از فروشندگان مواشی شهر میمنه به هدف راه اندازی فعالیت گنج بازار (نخاس) شهر میمنه در دفتر کاری اش شهر دیدار نمود.

شاروال میمنه در مورد اهمیت و مزیت نظم بازارها و اماکن خرید و فروش در روند رشد ساحات و فراهم سازی زمینه کاریابی و سهولت های شهری به تفصیل صحبت نمود.

اشتراک کنندگان جلسه نیز از تصمیم شاروالی میمنه ابراز خرسندی نمودند و به عملی سازی تصمیم فوق تعهد سپردند.

قابل یادآوری است که بازار مواشی شهر میمنه در دو طرف شهر و در دو موقعیت تنظیم گردید که به نوبت در روزهای بازار به روی خرید و فروش مواشی باز می گردد. موقعیت سمت شرق در ساحه گذر دمقول بالا مربوط ناحیه اول و سمت غرب در ساحه جنوب کمربند المار مربوط گذر یمبلاق ناحیه هفتم قرار داشته و مطابق تقسیم اوقات ترتیب شده روزهای یکشنبه و دو شنبه بازار مواشی در ساحه دمقول و به روزهای چهارشنبه و پنج شنبه در ساحه یمبلاق برگزار می‌گردد.

تنها در روزهای تعیین شده ساحه مشخص فعال می باشد و تأکید می‌گردد که فروشندگان مواشی در روزهای نوبتی در موقعیت معین خرید و فروش نمایند.

فاریاب ۴

به منظور تأمین صحت عامه، حفظ نظافت شهر و تطبیق معیارهای صحی، کارمندان شاروالی ولسوالی خلم از هوتل‌های عروسی کریستال و جهان‌نما بازدید و نظارت به عمل آوردند و به مسئوولین هوتل‌ها در خصوص رعایت اصول بهداشتی، حفظ پاکیزگی محیط کار و استفاده از ظروف پاک و معیاری هدایات لازم ارائه کردند.



غور ۵

ریاست شاروالی شهر نیلی ولایت دایکندی، بر اساس پلان کاری خود، از ساحات شامل پلان تفصیلی و اصلاحی این شهر نظارت کرد. در جریان این بازرسی، کار چند مورد ساخت‌وساز خودسر و غیرقانونی توسط هیئت نظارت متوقف گردید. همچنان به متخلفان هشدار داده شد که در صورت تکرار تخلف، به نهادهای مربوطه معرفی خواهند شد.

دایکندی ۶

## قلات ښار کې د لوډسپیکرونو کارول منع شول




زابل ۷

د قلات ښاروالی له لوري سوداګرو، هټۍ‌والو او لاس پلورونکو ته خبرتیا ورکړل شوې چې د خپلو توکو د اعلان او خرڅلاو لپاره له لوډسپیکرونو څخه کار وانخلي او پر ځای یې د اجناسو بیې په ښکاره ډول ولیکي. ښاروالی ټینګار کړی چې د خبرتیا له پامه غورځولو په صورت کې به لوډسپیکرونه راټول او له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.

شاروالی ولسوالی چاه آب ولایت تخار، کار تخریب دکاکین در ساحه پلان اصلاحی شهر چاه‌آب را در حضورداشت الحاج مولوی سیف‌الدین تائب معاون اداره امور، ولسوال و مسئولین امارتی رسماً آغاز نمود. این اقدام با هدف تطبیق پلان شهری، توسعه زیربناها، تنظیم بهتر امور و ایجاد سهولت برای شهروندان انجام شده است و روند اجرای آن مطابق برنامه تعیین شده ادامه می‌یابد.



تخار ۸

## جلسه ربع اول سال مالی ۱۴۰۵ کمیته مبارزه با فساد اداری شاروالی میمنه دایر گردید

جلسه ربع اول سال مالی ۱۴۰۵ کمیته مبارزه با فساد اداری شاروالی میمنه تحت ریاست داملا محمد امین فرقانی، شاروال میمنه و اشتراک اعضای کمیته در دفتر کاری مقام شاروالی تدویر یافت.

شاروال میمنه پیرامون گفت که کارمندان و کارکنان شاروالی با درنظرداشت مسئوولیت‌های دینی و وظیفوی در خدمت همشهریان قرار داشته و تلاش می‌نمایند تا خدمات را به‌موقع، مؤثر و عاری از هرگونه اهمال کاری ارائه نمایند.

در اخیر در مورد بهبود هرچه بهتر امورکاری صحبت و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

فاریاب ۹

## جلســه گزارش دهی فعالیت‌های ربع اول ســال مالی ۱۴۰۵ شاروالی میمنه برگزار شد

جلسه گزارش دهی فعالیت‌های ربع اول سال مالی ۱۴۰۵ شــاروالی میمنه با حضور داملا محمدامین فرقانی، شاروال شــهر میمنه، علمای کرام، اعضای بورد مشورتی، نمایندگان اصناف شهر، وکلای گذر و جوانان در تالار جلسات شاروالی میمنه تدویر یافت.

شــاروال میمنه در مورد همکاری و هماهنگی اقشار مختلف جامعه، اهمیت پاســخ‌گویی از طریق تدویر چنین برنامه‌ها به‌منظور دسترســی شــهروندان به معلومات و فعالیت‌های شــاروالی، تأمین شفافیت کاری و افزایــش اعتماد و رضایــت صحبت نمود و اطمینان داد که در ســال مالــی ۱۴۰۵ پروژه‌های انکشــافی و عام‌المنفعه در ســطح شهر طبق پلان تطبیق گردیده اســت و از حاضرین خواســت تا با شاروالی همکاری و هماهنگی بیشتر داشته باشند.

انجنیر خال‌محمد حمیدی، مدیر عمومی تخنیکی و مسلکی شاروالی میمنه گزارش فعالیت‌های ربع اول ســال مالی ۱۴۰۵، محمد همایون حلیمی، مدیر مالی و محاسبه گزارش عواید و مصارف ربع اول سال مالی ۱۴۰۵ و مدیر عمومی حکومتداری شهری در مورد فعالیت‌های انجام‌شــده بخــش های مربوط خویش معلومات ارائه نمودند.

فاریاب ۱۰

**د هلمند نادعلي ښــاروالۍ د تنظیف مدیریت له لوري د مرکزي بازار د پاکوالي او صحي وضعیت د ښــه‌والي په موخــه د مرکزي چوک او مستریانو چوک څخه د کثافاتو د انتقــال چارې ترسره شــوې. د ورځې په اوږدو کې له بېلابېلو سیمو څخه ټولټال ۱۰ موټره کثافات راټول او له ښاره بهر ولېږدول شول، ترڅو ښاري نظم، عامه روغتیا او پاک چاپېریال خوندي وساتل شي.**



هلمند ۱۱

**تقاضای شاروالی هرات از شهروندان هرات!**

:بیایید با همکاری کارکنان شاروالی برای پاکی و نظافت هرات باستان تلاش بیشتر نماییم. از انداختن زباله در سرک‌ها، پارک‌ها و اماکن عمومی پرهیز کنیم و آن را در محل‌های تعیین شده بیندازیم تا هم شهر ما پاک بماند و هم رسالت ایمانی و انسانی خود را ادا کنیم.

هرات ۱۲

**ریاســت شــاروالی فیض‌آبــاد ولایت بدخشــان، کار بازســازی و معیاری سازی جاده ســه کیلومتری شهر کهنه (مســیر چهارراهی استقلال تا منطقه ترگنی) را با هزینه ۱۵ میلیون افغانی از بودجه انکشــافی خود آغاز کــرد. این پروژه بــا حذف یکــی از گلدان‌های میانی و عریض‌سازی مسیر، ظرفیت جاده را افزایش داده و به کاهش حوادث و بهبود ترافیــک کمک می‌کند. مولوی جمال‌الدیــن حقجو، سرپرســت ولایت بدخشــان، و مولــوی حبیب‌الرحمن منصور، شــاروال فیض‌آباد، این اقدام را گامی مهم برای رفاه مردم، زیبایی شهر و پاسخ به شــکایات شــهروندان دانســتند که بــا همکاری دکانداران در زمان معین تکمیل خواهد شد.**



بدخشان ۱۳

## جلال‌اباد کې د ښاري نظم کمپاین ترسره شو



ننګرهار ۱۴

د جلال‌اباد ښــاروالۍ د مارکیټونو د تنظیم امریت له لوري د ښــار په بېلابېلو برخو کې د ښــاري نظم او د لاس پلورونکو د تنظیم په موخه عمومي کمپاین ترسره شو. د کمپاین پر مهال لاس پلورونکو ته سپارښــتنه وشوه چې ســړکونه او پلې لارې اشــغال نه کړي، ترڅو د ښــاریانو د تګ راتګ لپاره مناسبې اسانتیاوې برابرې او ښاري نظم خوندي وساتل شي.

**مدیریت عمومی ناحیه سوم و مدیریت عمومی تنظیف شاروالی تالقان ولایت تخار، جوی رسته کهنه فروشی این شــهر را به هدف بهبود جریــان آب و جلوگیری از تجمع آن، کندن کاری و لوش کشــی کردند. پرسونل تنظیف تمامی کثافات و رســوبات جــوی را جمع‌آوری کرده و به بیرون از شهر انتقال داده اند.**



تخار ۱۵

## تقاضای شاروالی هرات از باشندگان این شهر!



هرات ۱۶

پل هوایی برای جلوگیری از حــوادث احتمالی ترافیکی، بهتر شدن جریان ترافیک و حفاظت از جان شما ساخته شده است.

لطفاً از پــل هوایی اســتفاده نموده و از عبــور از میان سرک خودداری کنید. اســتفاده از پل هوایی، نشانه رعایت فرهنگ شهرنشینی و مسئولیت پذیری شماست.

## فراه کې د ښاري پراختیا پر پلانونو غونډه وشوه




فراه ۱۷

د فراه ښــاروال په مشرۍ د ښــاري پراختیا او نویو ګذرونو د سروې په اړه غونډه ترسره شوه. په غونډه کې د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د نویو سروې او ګذرونو د رامنځته کولو موضوعات وڅېړل شول، د ترسره شویو فعالیتونو راپورونه واورېدل شول او د چارو د لا ښه تنظیم، چټکتیا او اغېزمنتیا لپاره مسؤولینو ته لازمې لارښوونې وړکړل شوې.

**د ترینکوټ ښــاروالۍ د عوایدو راټولو چــارو مدیریت مســؤولینو د ښــار د لومړۍ او دوهمې ناحیې د هټیو او شرکتونــو د صنفي جوازونو د تمدیــد او نوي کولو بهیر وڅارل. د جوازونو د څار کمیټې له هڅــو‌او غوښــتل چې خپل جوازونه پر وخت نوي کړي او د ښــاري اصولو سره ســم خپلې ســوداګریزې چارې پــر مخ یوسي. ښــاروال الحاج ملا محمد اسماعیــل دفاعي هم ټینګار وکړ چې د ښــار له ټولو هټیو څخه باید منظم نظارت تر سره شي ترڅو ښاري خدمتونه لا پراخ شي.**



ارزګان ۱۸

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري عمومي رياست
د مطبوعاتو رياست

رغونه اونیزه

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## د خوست اداري کمپلېکس مخې ته د سړک ویرینګ پیل شو



خوست ۱۹

د خوست ښاروالۍ اړوند د شپږمې ناحیې په ساحه کې د اداري کمپلېکس له دروازې څخه د بې پروژې پوهنتون تر پله پورې د سړک جوړونې پروژې په دوام، د یاد سړک د وروستۍ (ویرینګ) طبقې چارې پیل شوې. د ښاروالۍ مسؤولینو د روانو چارو له کیفیت څخه نظارت کړی او ټینګار یې کړی چې پروژه باید په معیاري ډول او ټاکلي وخت کې بشپړه شي.

**د جلال اباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا امریت له لوري د تنظیفي خدمتونو په لړ کې د دوهمې ناحیې اړوند بېلابېلو ساحو څخه د کثافاتو د انتقال چارې ترسره کړې.**
**د تنظیف کارکوونکي له نهه ګونو ناحیو څخه هره ورځ ۶۵۰ متره مکعب کثافات راټولوي او مناسبو ځایونو ته یې انتقالوي.**



هلمند ۲۰

## د ګرشک جکشن سړک د پراختیا چارې روانې دي



هلمند ۲۱

د هلمند ګرشک ښاروالۍ د جکشن سړک د پراختیا او معیاري کېدو په موخه د سړک په مسیر کې د شته موانعو د لرې کولو چارې په منظم ډول روانې ساتلې دي. دا پروژه د ښار د نظم، ښکلا او د ترافیکي ستونزو د حل لپاره مهمه بلل کېږي. ښاروالۍ وايي، اداري او تخنیکي چارې به ژر بشپړې او عملي کارونه به په نږدې راتلونکې کې پیل شي، ترڅو یاد سړک په اساسي او معیاري ډول ورغول شي.

## د فراه ښار د نوي ورودي دروازې د جوړېدو پروژه پیلېږي




فراه ۲۲

ملي سوداګر عبدالصمد نورزي په مالي ملاتړ، د فراه ښار د نوي ورودي دروازې د جوړېدو پروژه پیلېږي. یاده پروژه د پنځه میلیونه افغانیو په لګښت تمویلېږي او ټاکل شوې ده چې د دریو میاشتو په موده کې بشپړه شي. د فراه ښاروالۍ مسؤولین وايي، دا پروژه به د فراه ښار د ښکلا، تاریخي هویت او ښاري پراختیا په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي.

## کندهار کې د سړکونو ترمیم بشپړ شو



کندهار ۲۳

کندهار ښاروالۍ د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د سړکونو د پینه کارۍ او ترمیم پروژه بشپړه کړه. د دې پروژې په ترڅ کې ۶۰۰۰ متره مربع زیانمن شوي سړکونه ترمیم او د تګ راتګ لپاره چمتو شول. پر یادې پروژې شاوخوا ۵ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې د کندهار ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه تمویل شوې دي. ښاروالۍ وايي، هغه سړکونه چې د کلونو راهیسې د بېلابېلو عواملو له امله زیانمن شوي، په تدریجي ډول به یې د بیارغونې او ترمیم چارې دوام ومومي.

**ګرشک ولسوالۍ ښار کې د نیالګیو د ساتنې چارې روانې دي هلمند ګرشک ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو برخو کې د نیالګیو د ساتنې، خړوبولو او پالنې چارې په منظم ډول روانې دي، څو د ښار زرغونتیا او ښکلا نوره هم پیاوړې شي.**



هلمند ۲۴

## د لښکرګاه ورودي دروازې د سړکونو د لیول کارۍ چارې وڅارل شوې



هلمند ۲۵

د لښکرګاه ښاروالۍ مسؤولینو ښار ته د داخلېدونکې دروازې د سړکونو د قیرریزۍ لپاره د چمتووالي په موخه د لیول کارۍ له روانو چارو څخه نظارت ترسره کړ. د نظارت پر مهال ټینګار وشو چې چارې دې په معیاري ډول ترسره شي، څو د ورودي دروازې ښکلا او کیفیت لا ښه شي.

## پل علم ښار کې د یوې مهمې پراختیایي پروژې څارنه ترسره شوه



لوګر ۲۶

د لوګر پل‌علم ښاروال مولوي محمد شاکر ثاقب د هوني سفلا په سیمه کې د ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک، لښتیو او پلچکونو د جوړولو له روانې پراختیایي پروژې لیدنه وکړه. نوموړي د چارو پر کیفیت او شفافیت ټینګار وکړ. په دې پروژه کې د ۳ کیلومتره لښتیو، ۵۵۰ متره سړک او ۱۵ پلچکونو جوړول شامل دي چې د ښاریانو د تګ راتګ اسانتیاوو او د ښار د ښکلا په ښه والي کې به مهم رول ولوبوي.

**نشست هماهنگی بورد مشورتی شاروالی تالقان تحت ریاست مولوی عبدالغفور سیرت برگزار شد. در این جلسه، شاروال تالقان پس از استماع گزارش فعالیت‌ها و مشکلات شهروندان، بر هماهنگی بیشتر جهت تأمین نظم شهری، ترویج فرهنگ شهرنشینی و تنظیم دست فروشان بر اساس فرمان شماره (۲۱) عالیقدرامیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تأکید کرد. این نشست با اتخاذ تصمیمات لازم و دعای خیر به پایان رسید.**



تخار ۲۷

## د پل‌علم ښار د ماستر پلان د تطبیق لومړنی ناسته ترسره شوه



لوګر ۲۸

د ښاري نظم او پراختیا کمېټې له لوري د پل‌علم ښار د نوي منظور شوي ماستر پلان د پلي کېدو په موخه لومړنی ناسته ترسره شوه. په ناسته کې د پل‌علم ښاروال مولوي محمد شاکر ثاقب، د ولایت مقام د دفتر رئیس او د اړوندو ادارو استازو ګډون کړی و. مسؤولینو د ښار د منظمې پراختیا او د خدمتونو د ښه والي لپاره د ګډو تخنیکي ټیمونو پر جوړېدو او د ماستر پلان د چټک تطبیق پر اړتیا ټینګار وکړ.

## مهترلام ښاروالۍ د سروې انجنیري بست اعلان کړ

مهترلام ښاروالۍ د وړ او مسلکي کسانو د ګمارنې په موخه د سروې انجنیري ۵ بست اعلان کړی دی. نوماندان کولای شي د غبرګولي له ۱۷مې تر ۲۷مې نېټې پورې د غوښتنلیک فورمې ترلاسه کړي. مسؤولین وايي، د ګمارنې پروسه به په شفاف او عادلانه ډول ترسره شي.

لغمان ۲۹

## فراه ښاروالۍ کې د مدیریتونو او ناحیو ارزونه وشوه

د فراه ښاروالۍ د نظارت امریت له لوري د ښاروالۍ پر مدیریتونو او ناحیو نظارتي ارزونه ترسره شوه. د ارزونې پر مهال د کاري بهیر، ښاري خدمتونو او عوایدو راټولولو وضعیت وڅارل شو. مسؤولینو ته د لا غوره خدمتونو وړاندې کولو، همغږۍ او د عوایدو د منظم راټولولو په موخه لازمې سپارښتنې او لارښوونې وشوې.

لغمان ۳۰

## اسعداباد ښار کې د کثافاتو د انتقال چارې رواني دي

د کونړ سعداباد ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکو د لومړۍ او درېیمې ناحیو له بېلابېلو ساحو څخه راټول شوي کثافات د ښاروالۍ د وسایطو په وسیله د دفن ځای ته انتقال کړل. مسؤولین وايي، د کثافاتو د لویو ګوداموونو د له منځه وړلو او د بندو لښتیو د خلاصون چارې لا هم دوام لري.

کونړ ۳۱

## د سپین‌بولدک ښاروال د لویې پراختیایي پروژې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه



کندهار ۳۲

د سپین‌بولدک ښاروال د ښاروالۍ د انجنیري ټیم، د قراردادي شرکت مسؤولینو، ټول ګټو وزارت د ډیزاین انجنیر او د ښاري حکومتولۍ مدیر په ملتیا د سپین‌بولدک ولسوالۍ د لویې پراختیایي پروژې له کاري بهیر څخه لیدنه او ارزونه وکړه. د قراردادي شرکت مسؤولینو د پروژې د پرمختګ راپور وړاندې کړ او ویې ویل چې کارونه د منظور شوي پلان مطابق روان دي او هڅه کېږي چې پروژه په ټاکلي وخت بشپړه شي.

د ښاروالۍ انجنیري ټیم وویل چې د کار پرمختګ لا هم د ټاکل شوي فیصدۍ څخه کم دی او اړتیا ده چې د پلچکونو او نورو اړینو تاسیساتو کارونه چټک شي. ټول ګټو وزارت انجنیر څرګنده کړه چې تر اوسه شاوخوا ۴۰ سلنه د پروژې کارونه بشپړ شوي او د ویالو او لبولنګ چارې وروستي پړاو ته رسېدلې دي. ښاروال مولوي لطف الله لطیفي د کار د کیفیت او چټکتیا پر زیاتوالي ټینګار وکړ او له ټولو اړوندو لورو یې د لا زیاتو هڅو غوښتنه وکړه.

## مهترلام ښاروالۍ له خپل هوټل څخه نظارت وکړ

د مهترلام ښاروال الحاج مولوي نظر محمد عتیق د دویمې ناحیې اړوند د ښاروالۍ له هوټل څخه نظارتي لیدنه وکړه. نوموړي د پاکوالي، نظم او غوره مدیریت پر اړتیا ټینګار وکړ او د هوټل قراردادي ته یې لازمې سپارښتنې وکړې. همداراز د هوټل یو شمېر ستونزې او اړتیاوې وارزول شوې او د حل لپاره یې د اقدام ډاډ ورکړل شو.

لغمان ۳۳

## د کونړ اسعداباد ښاروالۍ له ښاریانو غوښتنې چې د کثافاتو دانۍ یوازې په ټاکلو ځایونو کې وکاروي، څو ښار پاک او ښکلی پاتې شي.



کونړ ۳۴

کار کانکریت ریزی ششمین کوچه در شهرک قهوه خانه شهر کندز به عنوان بخشی از پروژه بزرگتر کانکریت ریزی ۱۱ کوچه همراه با اعمار آبروهای دوطرفه، با سرعت و کیفیت مطلوب از سوی شاروالی کندز جریان دارد. این پروژه زیربنایی با هدف رفع مشکلات محیطی باشندگان محل و بهبود وضعیت شهری روی دست گرفته شده است.



کندز ۳۵

جلسه‌ای به منظور کنترل نرخ‌نامه‌ها و بررسی وضعیت صحی هوتل‌ها و شیرینی‌پزی‌های شهر وحدت در شاروالی ارگو ولایت بدخشان برگزار شد. در این نشست، به مالکان این اصناف هدایت داده شد تا محصولات خود را مطابق اصول شاروالی به فروش رسانده و نظافت را به طور کامل مراعات کنند. در مقابل، شاروالی ارگو از حمایت و رسیدگی به مشکلات آنان اطمینان داد.



بدخشان ۳۶

شاروالی تالقان ولایت تخار روند تنظیم و اصلاح شهری را برای کاهش ازدحام، بهبود رفت و آمد و زیباسازی شهر آغاز کرده است. این برنامه بر اساس فرمان شماره (۲۱) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی و در هماهنگی با دستفروشان تطبیق می‌شود تا ضمن حفظ شغل آن‌ها، فعالیت‌شان با توزیع کارت‌های مخصوص تنظیم گردد. مسئولان شاروالی تالقان از شهروندان و دستفروشان میخواهند تا با استفاده از مکان‌های تعیین شده، در تأمین نظم و رفاه شهری همکاری کنند.



تخار ۳۷

# د ولاياتـو او ولسـواليو ښـاروالیو د فعاليتونو او لاسته راوړنو خبري اونيزه

## کندهار کې د سـپین زیارت سـړک رغنيزې چارې چټکې روانې دي


کندهار ۳۸

د کندهار ښـــاروالۍ له لوري د ښار د شـپږمې ناحيې اړوند د سپين زيارت سړک رغنيزې چارې په چټکۍ سره روانې دي. ياد سـړک يو کيلومتر اوږدوالی او اووه متره پلنوالی لري او دا مهال يې د سـبیس طبقې کارونه دوام لـري. د پروژې په لړ کې د ۱۶۰۰ مترو پـه اوږدوالي د ويالو او پنځـو پلچکونو چارې هم بشپړې شوې دي.

پر دې پروژه شاوخوا ۱۰ ميليونه افغانۍ لګښت راځي او دا مهال ۳۵ تنو ته د کار زمينه برابره شـوې ده. د سيمې اوسېدونکو د سـړک د رغونې له چارو خوښـي څرګنده کـړې او د کندهار ښاروالۍ له هڅو يې مننه کړې ده.

## خوسـت ښـار څلورمه ناحيه کې د ۱۷م ګڼې فرمان عامه پوهاوی ترسره شو


خوست ۳۹

د خوست ښـــاروالۍ څلورمې ناحيې مسؤولينو د بدو رواجونو د مخنيوي په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی ۱۷م ګڼه فرمان په ګڼ مېشتو سيمو، جوماتونو او تفريحي پارکونو کې نصب او خلکو ته تشريح کړ. مسؤولين وايي، د دغه فرمان په اړه د عامه پوهاوي لړۍ لا هم روانه ده.

**مديريت تنظيف و سرسبزی شاروالی شهر سرپُل، زباله های سـاحات مختلف شـهر را جمع‌آوری و به خارج از شهر انتقال دا د و از شهروندان تقاضا نمود تا با رياست شـاروالی شـهر سرپُل همکاری همه‌جانبه نمايند و از انداختن زباله در جاده‌ها، پياده‌روها و ساير اماکن عامه خودداری نمايند.**


سرپل ۴۰

## د مسلم اباد اوسـېدونکو خپلې سـتونزې له مهترلام ښاروال سره شريکې کړې


لغمان ۴۱

د مهترلام ښار د دويمې ناحيې اړوند د مسلم‌اباد کلي يو شمېر اوسـېدونکو د خپلو سـتونزو د حل په موخه د مهترلام ښاروال الحـاج مولوي نظر محمد عتيق سره ناسـته وکړه. د سـيمې اوسېدونکو د فرعي سـړکونو او ويالو د جوړولو غوښتنه وکړه، او ښاروال ډاډ ورکړ چې د خلکو ستونزو ته به د امکاناتو په رڼا کې پر وخت رسيدنه وشي.

**شاروالی پلخمری با همکاری مقام ولايت بغلان و ساير ادارات، اقدامـات جديدی را پـس از عيد اضحی برای تنظيم اين شـهر آغاز کرده است. اين اقدامات به دليل موقعيـت پلخمری به عنوان شـاهراه عبوری ۹ ولايت شمالی و در پاسـخ به شکايات گسترده مردم و بيماران از ازدحام ناشـی از بی‌نظمی کسـبه کاران صورت می گيرد. در اين برنامه، اموال دست‌فروشـان و دکانداران متخلف از پياده‌روها و مسير جاده‌ها جمع‌آوری و توصيه های لازم به آن‌ها ارائه شـده است. به گفته مسئولان، اين نظارت‌ها برای تضمين رفت‌وآمد راحت شهروندان، کاهـش ترافيک و حفظ نظم شـهری به صورت روزانه ادامه خواهد داشت.**


بغلان ۴۲

دور نهم شبکه شاروالی‌های ولايت بغلان با هدف تبادل تجارب و ارتقای ظرفيت، در شاروالی ولسوالی خوست برگزار شد. در اين نشست، مسئولان شاروالی پلخمری موضوعاتی چون پلان‌های تفصيلی و انکشافی، بخش‌های تخنيکی، ويزه ساختمان، اهميت پرداخت محصول و فرهنگ شهرنشينی را تشريح کردند. همچنان شاروال خوست ولايت بغلان گزارشی از کارکردهای اين اداره ارائه نمود و در پايان، به پرسش‌های اعضای مجلس در بحث آزاد پاسخ داده شد.

بغلان ۴۳

## ګرديز ښـاروال د ودانيزو چارو پر مهال د ګاونډيانو حقونـو رعايت مهم وباله


پکتيا ۴۴

د ګرديز ښاروال الحاج حبيب الله اخندزاده حامد د نويو ساختماني چارو د څارنې پر مهال له کور مالکانو وغوښـتل چې د انجنيري اصولو، ښاري معيارونو او د ګاونډيانو حقونو رعايت ته ځانګړې پاملرنه وکړي. نوموړي ټينـګار وکړ چې د ودانيزو چـارو پر مهال بايد د ګاونډيانو د محرميت او ارامتيا حقونه خوندي وساتل شي او ټولې چارې د قانوني او تخنيکي اصولو له مخې ترسره شي.

**روزانـه ۹۰۰ متر مکعب زباله توسـط پرسـنل بخش تنظيف شاروالی هرات در دو شيفت شب و روز از سطح نواحی پانزده گانه جمع آوری و به بيرون از شهر انتقال داده می‌شـود. اين فعاليت‌ها شامل پاک‌کاری کانال‌ها، جويچه‌هـا، جمع‌آوری زباله‌ها و جاروب‌کشـی سرک‌ها است. مسئولان و کارکنان شاروالی ضمن تأکيد بر ادامه ايـن تلاش‌هـا، تأمين پاکـی دايمی شـهر را نيازمند همکاری مردم می‌دانند و از شهروندان می‌خواهند زباله ها را در مکان‌های تعيين‌شده بگذارند.**


هرات ۴۵

**مولوی شـمس الرحمن خالد شـاروال ولسوالی نهرين ولايت بغلان خدمات مداومی را در بخش‌های تنظيف، تنظيم امور شهری، عوايد و بخش اداری به شهروندان ارائه کرده است. اين فعاليت‌ها شامل پاک‌کاری سرک‌ها و جويچه‌ها، نظارت بـر اصناف و مارکيت‌ها، جمع‌آوری عوايد و رسيدگی به امور اداری مراجعين بوده است.**


بغلان ۴۶

## جلال اباد ښـــار کـــې د درونټـــې - سرخاب پل ســـړک د اسفالټ چارې روانې دي



ننګرهار ۴۷

د جلال اباد ښـــاروالۍ له لـــوري د درونټې څخه تر سرخاب پل پورې د دوهم لین سړک د اسفالټ (قیریزۍ) چارې روانې دي. د ښاروالۍ مسؤولینو د پروژې له کارونو لیدنه کړې او د کیفیت، کمیت او چټکتیا په اړه یې لازمې سپارښـــتنې کړې دي. دغه ســـړک د شـــاوخوا ۷۵ میلیونه افغانیو په لګښـــت نږدې درې کیلومتره اوږدوالی لري.

د ښاروالۍ په وینا، د یاد سړک په جوړېدو سره به د سیمې ښکلا زیاته، د ټرافیکي ګڼې ګوڼې کچه راکمه او د ښاریانو د تګ راتګ اســـانتیاوې پراخې شي. د سیمې اوســـېدونکو هم د پروژې له پرمختګ څخه خوښي ښکاره کړې ده.

**کار سنگ کاری دیوارهای استنادی و ساخت پلچک‌های سرک جـــوار قومندانی امنیه الی چوک غازی از ســـوی شاروالی کندز به گونه اساسی و معیاری جریان داشته و پروژه به پیشرفت ۷۰ درصدی رسیده است. این پروژه زیربنایی شامل هموارکاری ۱۸۵۰ متر سرک به عرض ۲۰ متر همـــراه بـــا اعمار چندین پل و پلچک می‌باشـــد که مطابق معیارهای فنی تطبیق می‌گردد. با تکمیل شـــدن کار ایـــن پروژه، ســـهولت‌های چشـــمگیری در بخش ترانســـپورت شـــهری ایجاد شـــده و نقـــش مهمی در انکشاف و بهبود زیربناهای شهر کندز ایفا خواهد کرد.**




کندز ۴۸

## فراه ښـــاروالۍ کې د صرافانو اتحادیې سره د همغږۍ غونډه وشوه

د فراه ښاروالۍ په کوربه‌توب د فراه ولایت د صرافانو اتحادیې له رئیس او غړو سره د همغږۍ او همکارۍ غونډه ترسره شوه. په غونډه کې د صرافانو د ستونزو او وړاندیزونو په اړه خبرې وشـــوې، او ښـــاروال د اړینو همکاریو ډاډ ورکړ. همدارنګه له صرافانو وغوښـــتل شول چې د ولایت د ابادۍ، اقتصادي ودې او پراختیا په چارو کې خپله پانګه ولګوي.

فراه ۴۹

## مهترلام ښـــار کې د تخریب شوي ســـړک د بیارغونې چارې پیل شوې



لغمان ۵۰

د مهترلام ښاروالۍ له لوري د ښاریانو د ستونزو د حل په موخه د دریېمې ناحیې اړوند د اقوامو او قبایلو ریاست مخې ته د تخریب شـــوي ســـړک د بیارغونې چارې پیل شـــوې. دغه سړک به په اساسي او معیاري ډول ورغول شي، او د ښاروالۍ په وینا د روان کال په ترڅ کې به په یو شـــمېر نورو سړکونو کې هم د ترمیم او داغګیرۍ چارې ترسره شي.

**د مهترلام ښاروالۍ اداري ناسته ترسره شوه**
**د مهترلام ښاروالۍ نوبتي اداري ناسته د ښاروال الحاج مولوي نظر محمـــد عتیق په مشرۍ ترسره شـــوه. په ناســـته کې د تېر مجلـــس د پرېکړو او ترسره شـــویو فعالیتونو راپورونه وارزول شول او ښاروال د مسؤولینو له هڅو مننه وکړه. نوموړي د چارو پر شـــفاف او مسؤلانه ترسره کېدو ټینګار وکړ او یو شمېر نوې دندې یې اړوندو مسؤولینو ته وسپارلې.**




لغمان ۵۱

**کار ســـاخت و کانکریت‌ریزی سرک حلقوی، ۱۱ کوچه و آبروهای شـــهرک قهوه‌خانه توســـط شـــاروالی کندز با سرعت جریـــان دارد. تاکنـــون کانکریت‌ریزی ٦ کوچه فرعی پایان یافته و بخش‌های دیگر طبق پلان در حال اجرا اســـت. هدف این پروژه زیربنایی، رفع مشـــکلات محیطی و تسهیل رفت‌وآمد شهروندان است.**



کندز ۵۲

## جلال اباد ښـــار کې د لویې سیخدارې ویالې د کارونو ارزونه وشوه



ننګرهار ۵۳

د جلال اباد ښـــاروالۍ د تخنیکي او سکتوري چارو مسؤولینو د لومړۍ ناحیـــې اړوند د قالینو کوڅې څخه تر پوهنتون روغتون پورې د لویې سیخدارې ویالې د جوړېدو له روانو چارو لیدنه وکړه او د کارونو د کیفیت او چټکتیا په اړه یې لازمې سپارښتنې وکړې. یاده پروژه د شاوخوا ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د باراني اوبو د منظم ایستلو په موخه پلې کېږي. ښاروالۍ وایي، دا او ورته نورې پروژې به د اوربستونو پر مهال د ښاریانو ستونزې کمې او ښاري زېربناوې لا پیاوړې کړي.

**د غني‌خېلو نوي ښـــاروال د کارکوونکـــو سره د معرفت غونډه وکړه . د ننګرهار غني‌خېلو ښاروالۍ نوي ښاروال قاري راز محمد جبارخېل، د ښاروالۍ له کارکوونکو سره د معرفت غونډه ترسره کړه. نوموړي د ادارې د لا ښـــه تنظیـــم او اغېزناکـــو خدمتونو وړاندې کولـــو په موخه کارکوونکو ته د اداري اصولو مطابق لازمې سپارښـــتنې وکړې.**



ننګرهار ۵۴

ملا محمد ولی جان رحمت، والی بادغیس، در رأس هیئتی از بخش‌های مختلف شاروالی قلعه‌نو این ولایت بشمول مسائل اداری، حاضری، پلان‌ها و پروژه ها نظارت کرد. وی در این بازدید با تأکید بر نقش کلیدی این اداره در نظم و زیباسازی شهر، خواهان ارائه طرح‌های نو و تسریع در اجرای پروژه‌ها برای رفاه مردم شد. مسئولان شاروالی نیز متعهد شدند تا با هماهنگی بیشتر، خدمات خود را بهبود بخشیده و سریع‌تر به شهروندان ارائه کنند.

بادغیس ۵۵

## ترينکوټ کې د خیروکاریز ښارګوټي د ملکیتونو د ثبت او پراختیا په اړه مشورتي غونډه ترسره شوه




روزګان ۵۶

د ترينکوټ ښــــاروالۍ په مقام کې د روزګان ولایت د استخباراتو رئیس په مشرۍ د خیروکاریز ښـــارګوټي له اوسېدونکو او اړوندو ادارو مسؤولینو سره د ملکیتونو د قانوني ثبت، د صفایي کتابچو د پروسې پیل او پراختیایي کارونو په اړه مشورتي غونډه ترسره شوه. په غونډه کې د ښـــاروالۍ، کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ ریاســـت مسؤولنو او ګڼو مخورو ګډون درلود.

په غونډه کې د ملکیتونو د تثبیت او د ښاري خدمتونو د پراختیا پر اهمیت خبرې وشوې. مسؤولینو وویل چې دا بهیر به د اوسېدونکو ســـتونزې حل او د ښـــار منظمه پراختیا ته زمینـــه برابره کړي. همدارنګه د خیروکاریز د اوســـېدونکو اســـتازو خپـــل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل او د قانوني پروسې د پیل هرکلی یې وکړ.

## لښــکرګاه کې د مالوچو په کارخونه کې اور مهار شو




هلمند ۵۷

د لښکرګاه ښار پنځمه ناحیه کې د مالوچو په یوه کارخونه کې د برېښـــنا د شارټۍ له امله رامنځته شوی اور د ښاروالۍ د عاجلې څانګې او اطفایې په ګډو هڅو مهار شو. د ښاروالۍ په وینا، د اور له امله شاوخوا ۱.۵ لک ډالرو زیان اوښتی او د شاوخوا ۳.۵ لک ډالرو د احتمالي زیان مخه نیول شــوې ده. مســؤولین وایي، د عاجلو پېښو پر مهال به دا ډول همغږې هڅې دوام ولري.

## د اســـعداباد ښـــاروالۍ فعالیتونه له ښـــاریانو سره شریک شول

د کونړ اســـعداباد ښـــاروالۍ د ټولنیزو او کلتوري خدمتونو مدیر د کونړ ملي راډیو تلویزیون له لارې د ښـــاروالۍ د ترسره شـــویو او روانـــو فعالیتونو او راتلونکـــو پلانونو په اړه معلومات له ښـــاریانو سره شریـــک کـــړل. ښـــاروالۍ وایـــي، د اداري اړوند معلوماتو د وړاندې کولو او له ښاریانو سره د اړیکو پیاوړتیا ته ژمنه ده.

کونړ ۵۸

## مزارشریف ښار کې د ۱۷ میلیونه افغانیو سړک پروژه پیل شوه



بلخ ۵۹

د مزارشریف ښار د څلورمې ناحیې اړوند د چغدک ګذر د B پروژې د ســـړک د قیرریزۍ چارې په رسمي ډول پیل شوې. دغه سړک ۸۰۰ متره اوږدوالی او ۱۰ متره ســـور لـــري چې د ۱۷ میلیونه افغانیو په لګښـــت د ښـــاروالۍ له پراختیـــا بودجې تمویلېږي. مســـؤولینو د پروژې پر معیاري او پر وخت تطبیق ټینګار کړی او ویلي یې دي چې دا پروژه به د ښـــاریانو د تګ راتګ اسانتیاوې زیاتې او ټرانسپورټي ستونزې کمې کړي.

شـــاروالی شبرغان ولایت جوزجان، بـــه تاریخ ۱۹ جوزا ۱۴۰۵ جلسه حســـاب‌دهی شـــش‌ماهه دوم سال مالی ۱۴۰۴ خود را با حضور مسئولان امارتی، علما و اعضای بورد مشـــورتی برگزار کرد. در این برنامه، مولوی فضل المنان عمری، شـــاروال شبرغان، برنامه‌های انکشافی ســـال ۱۴۰۵ را تشریح نمود و گزارش تصویری فعالیت های گذشته ارائه شـــد. در پایان، نمایندگان ادارات و شورای علما از کارکردهای این نهاد تقدیر کردند.



جوزجان ۶۰

جلســـه هماهنگی شـــاروالی تالقان ولایت تخار، امروز چهارشـــنبه (۲۰ جـــوزا ۱۴۰۵) تحت ریاســـت مولوی عبدالغفور سیرت و با حضور مسئولان نواحی شش‌گانه برگزار شد. در این جلسه، شاروال بر تطبیق قانون، ارائه خدمات بـــهتر و هماهنگی بـــا نهادهـــای امنیتی برای جلوگیری از ســـاخت وســـازهای غیرقانونی تأکید کرد. همچنان به بخش‌های تنظیف هدایت داده شد تا جهت تأمین محیط زیست سالم، برای جمع‌آوری به‌موقع زباله ها و پاک نگهداشتن شهر تلاش بیشتری نمایند.



تخار ۶۱

## قلات ښـــاروالۍ له ګـــذر وکیلانو او مشـــورتي بورد سره غونډه ترسره کړه



زابل ۶۲

د قلات ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ مسؤولینو د ګذر وکیلانو او د مشورتي بورد له غړو سره غونډه ترسره کړه. په غونډه کې د ښار د مهمو موضوعاتو، د ښاریانو د ستونزو او د خدمتونو د ښه والي پـــه اړه بحث وشـــو. مســـؤولینو ډاډ ورکړ چې د ښـــار د پرمختګ او غوره خدمتونو لپاره به هڅې دوام ولري.

آمران سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از پروژه های قیرریزی سرک پســـته مـــزار، گذر چغدک و سرک میدان هوایی بازدید کردند. این نظارت با هدف ارزیابی کیفیت، بررســـی معیارهای تخنیکی و تسریع روند کار برای بهبود سیمای شهری انجام شد.



بلخ ۶۳

## فراه ښـــاروالۍ کې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمانونو د تطبیق په اړه ګډه غونډه ترسره شوه

د فراه ښاروالۍ په ریاست کې د ښاروال په مشرۍ د امیرالمؤمنین حفظه‌اللـــه تعالی د ۳ او ۱۴ ګڼو فرمانونو د ښـــه تطبیـــق، د ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیـــا او د ودانیزو چارو د بهیر د ښـــه والي په موخه پراخه غونډه ترسره شـــوه. پـــه غونډه کې د بېلابېلو ادارو اســـتازو د نقشـــو د معیاري کولو، د جوازونو د شفاف بهیر او ښاري اصولو د مراعتولو په اړه نظرونه او وړاندیزونـــه شریک کړل. ګډونوالو د یادو فرمانونو د عملي کولو په برخه کې د بشـــپړې همکارۍ ژمنه وکړه.

فراه ۶۴